Ahmad Shah (Vahdat)

SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال اته ځلوېښتمه ګڼه پرله پسې (۱٤۸) چهارشنبه د۱٤۱۹هق کال د ربیع الاول (۲۸) د۱۳۷۷ هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتي (۳۱) د۱۹۹۸ میلادي کال دجولای (۲۲)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! . همدا اعدل ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګارۍ) ته . (سورة المائدة)

بروجردي له وسلو نه ډکو الوتکو سره مزار شریف ته ورسید

باید قضاوت وشي چې د افغانستان په چارو کې د ایران د بې پرېتوب دعوي څومره حقیقت لري

د سیمي د موثقو منابعو د خبر له مخې څرګنده شویده چې د افغانستان لپاره د ایران خاص استازي ع لاو الدین بروجردي مزار شریف ته بېرته راستون شوی او له ښار سره یې په وسلو او پوځي مهماتو بار ځلور الوتکي هم راوستې دي.

وبل کیږي چې د دې وسلو زیاته برخه په حکمتیار پورې مربوطو قوماندانانو ته ورکړل شوي تر څو هغوی تشویق او د مېښتي جګړې ته بې وهڅوي په راغلو راپوروتو کې دا هم وبل شوي چې د دې وسلو زیاتره برخه پښتنو قوماندانانو ته ورکړل شویده تر څو بې د طالبانو پر خلاف وجنګوي .

د یورتنیو شواهدو پر اساس باید قضاوت وشي چې د افغانستان په چارو کې د ایران د بې پرېتوب دعوي څومره حقیقت لري.

د بڼ په غونډه کې د لویې جرګې د تدویر پر شکل اختلافات راپورته شول

د امریکا غږ راډیو د خبر له مخې وبل کیږي چې د بڼ د ښار د روانې غونډې په دو همه ورځ یو لړ اختلافات را پیدا شوي دي اختلافات د جرګې د جوړېدو په شکل او تدویر پاندي را پیدا شوي . ځلوړم مخ

د شمال د په اصطلاح متحدې جبهې د اختلافاتو له امله :

دوستم د استاد رباني له ملاقات څخه انکار وکړ

ورمه ورځ استاد رباني د مزار شریف نه د یو څو تنو سپین ږیرو سره شبرغان ته لاړ چې له دوستم سره ملاقات وکړي او دا باور ورته ورکړي چې موږ په دې سختو کښې له تاسره یو . خو دوستم ورسره د ملاقات نه انکار وکړ. استاد رباني تر پنځو ځلوېښتو دقیقو پورې منتظر و خو نا مراده مزار ته راستون شو .

محترم مولوي محمد نبي محمدي د SNA سره په ځانګړې مرکه کې :

د طالبانو په موجودیت کې نه لویې جرګې ته ضرورت شته نه دریم قوت ته اړتیا

د عالیقدر امیر المؤمنین لخوا د ګوندونو د منحل کولو د اعلان ملاتړ کوم

د طالب او مجاهد تر منځ فاصلې فاسقو او بد عملو پاټکیانو ایجاد کړېدي

پوښتنه : محمدي صاحب ! اوس د هېواد په لویه برخه د طالبانو واکمني ده، ستاسو د مشرۍ لاندې د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم چې اساساً د علماو .تنظیم بلل کیږي په روان سیاسي بهیر کې څه دریځ لري او پالیسي بې په څه ولاړه ده ؟

ځواب : له هماغې اوې شیبې چې د طالبانو تحریک را ژرغون شوی موږ بې په ژبه، قلم، ضمیر مال او ځان باندې ملاتړ کړی او تر ننه په هماغه لیکه باندې روان یو، او د دغه غورځنګ تقویه کول او له هغه سره همکارۍ د خپلې پالیسي محوري نقطه ګڼو. ځلورم مخ

سنګ تهداب عمارت مدرسه عالي چاریکه میدان شهر و مدرسه مدینة العلوم طي مراسمي گذاشته شد

سنگ تهداب عمارت مدرسه عالي چاریکه میدان شهر و مدرسه مدینة العلوم کوته عشرو ولایت میدان وردك اخیراً طي مراسمي یکی پی دیگر گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش میدهد: در مراسم که بهمین مناسبت به اشتراك علما ، روحانیون، موسفیدان و جمع کثیري از اهالي متدین مناطق متذکره دایر شده بود ابتدا آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردیده متعاقباً محترم مولوي حفیظ الله در رابطه به اهمیت و ضروریات مدارس متذکر مفصلاً توضیحات دادند.

مدارس متذکره به همکاري اهالي متدین مناطق متذکره و موسسه ناروېجن تمویل میگردد. درین مراسم محترم مولوي عبدالصمد قوماندان امنیه ولایت میدان وردك نیز اشتراك نموده بود.

پروگرام مواد غذایي جهان به مقدار ۱٦۲ تن گندم را به وزارت آب و برق مساعدت مینماید

پروگرام مواد غذایي جهان به مقدار ۱٦۲ تن گندم را بـه وزارت آب و برق مساعدت مینماید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد ، این مطلب در ملاقات روز دوشنبه محترم الحاج ملا محمد عیسی اخند سرپرست وزارت آب و برق با محترم انجنیر محمد عالم عالمي مسئول پروگرام مواد غذایي جهان در کابل مورد بحث و گفتگو قرار گرفت . در این ملاقات مسئول پروگرام غذایي جهان پیرامون منظوري مقدار یکصدو شصت و دو تن گندم مساعدت آن اداره به پرسونل فنی کارگران وزارت آب و برق که در انتقال تمدید لین برق سرکت دوم ۱۱۰ کیلو وات کار و فعالیت مینمایند معلومات داده که بالمقابل سرپرست وزارت آب و برق از سمک سازمان غذایي جهان ابراز قدرداني نمود.

سنګ تهداب مسجد جامع یوسف خیل ولایت پکتیا گذاشته شد

سنگ تهداب مسجد جامع ولسوالي یوسف خیل ولایت پکتیا گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در اجتماع که بهمین منظور به اشتراك جمع کثیري از اهالي و منسوبین آن ولسوالي تدویر یافته بود بعد از تلاوت آیات چند از قرآن مجید محترم مولوي غلام فاروق ولسوال آن ولسوالي در رابطه به اهمیت اعمار مساجد واداي نماز هاي پنجگانه بتفصیل صحبت نمود . مسجد متذکره در یك وقت گنجایش دو۳ صد نفر نماز گذار را داشته و در ساحه دو نیم جریب زمین بطور پخته و اساسي به همکاري مردم متدین محل و از بودجه امارت اسلامي اعمار میگردد.

د هلمند او ارغنداو د وادي لوی رئیس محترم مولوي عبدالصمد خجندي او د کندهار د برېښنا رئیس محترم مولوي عبدالاحد له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

د یوه بند په ترلو مو په هلمند کې شل لکه جریبه ځمکه خړوبه کړله

له ځلوېښتو عرادو زیات نقلیه وسایط لرو

محترم مولوي عبدالصمد «خجندي»

ډېر ژر به ټول کندهار او د هلمند اکثره ولسوالۍ په برېښنا روښانه شي

ټولې اړتیاوې مو پوره دي د خپل کار په وړاندې هیڅ خنډ نه وینو

محترم مولوي عبدالاحد

محترمو لوستونکو زموږ خبریال د کندهار دهلمند او ارغنداو د وادي لوی رئیس محترم مولوي عبدالصمد خجندي او د کندهار د برېښنا له رئیس محترم مولوي عبدالاحد سره د دوی د کارونو په اړه مرکه کړېده چې په ګډه یې سره لولو.

مهرباني وکړئ د شریعت اوونیزې لوستونکو ته ځان معرفي کړئ !

ځواب : زه عبدالاحد اخندزاده د مولوي عبدالکریم اخندزاده چې په ګاړي اخندزاده شهرت لري زوی، د ارزګان ولایت د دهراوود د ولسوالۍ د شهر کونه په کلي کې زېږېدلی یم عمر مې ۳۹ کاله دی د حرکت انقلاب اسلامي او اتحاد اسلامي په صفو کې مې جهاد کړېدی سبق مې د کندهار په ولایت کې ویلی دی.

پوښتنه : د کجکي د برېښنا کوټې د وضعې په هکله معلومات راکړئ .

ځواب : د کجکي برېښنا کوټه لرل اوه توربینونو ته پاره ځای لري ص ٤

کار اعمار جویچه ها و سیلبر هاي ناحیه یازدهم آغاز گردید

کار اعمار جویچه ها و سیلبر ها در مربوطات ناحیه یازدهم شاروالي کابل آغاز یافت .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : بسلسله باز سازي و اعمار مجدد سرك ها، سیلبر ها و غیره تاسیسات عام المنفعه کار اعمار جویچه ها و سیلبر هاي که در مربوطات ناحیه یازدهم قبلاً تخریب گردیده بود توسط پرسونل فني شاروالي کابل آغاز یافت .

در جریان آغاز کار اعمار جویچه ها و سیلبر ها محترم الحاج ملا عبدالمجید اخند شاروال کابل و نماینده موسسه هبیتات نیز اشتراك داشتند. جویچه ها و سیلبر هاي متذکره بطول سه کیلو متر بطور پخته و اساسي بکمك مالي موسسه هبیتات اعمار میگردد.

تورنمنت مسابقات والیبال در ولایت کندز افتتاح گردید

تورنمنت ورزشي مسابقات والیبال اخیراً در ولایت کندز افتتاح گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در مراسم که بهمین مناسبت در شهر کند، دایر شده بود ابتدا آیاتي چند از قرآن عظیم الشان قرائت گردیده متعاقباً محترم الحاج محمد عارف والي ولایت کندز در رابطه به اهمیت ورزش صحبت نموده جوانان و ورزشکار را متوجه وظایف بعدي شان نمود.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د مرستندویه ادارو کړې مرستې د قدر وړ بولو

زموږ له ځوریدلو هیوادوالو سره د ټولو مرستندویه موسسو مرستې د قدر وړ دي که پخوانۍ کړې دي او که بې بیا بل وخت کوي ځکه زموږ لاس تنګي او مجبور هیواد وال مرستو ته سخته اړتیا لري او د غوادارو په سختو وختونو کې لاس راکړې دي له دې امله بې شکر ادا کوو، که څوک د خلکو د احسان شکر نه ادا کوي هغه د الله تعالی د احسانونو شکر هم نه ادا کوي،

مګر په دې خبره یو چې مرستندویه اداري ولې زموږ له اصولي خبرې او غوښتنې څخه دومره په غوسه شوي چې د مرستو بندولو او دفترونو تړلو ته بې ملا وتړله ؟

ښایي چې د دوی په هیوادونو کې به هم لارې چارې داسي وي چې بهرني اداري به د هغو هیوادونو د اصولو، کلتور او عنعناتو تابع وي نه دا چې په خپله خوښه خپل سر او خپل انتخاب به ځان ته ځایونه پیدا کوي او خپل سري به کوي؛ دوی چې د هر هیواد خلکو ته خدمت کوي هغوی به هم هرومرو د دغوادارو مرسته کوي، د کار او خدمت زمینه به ورته سموي، د ځانونو، مالونو او وسائلو حفاظت به یې کوي ؛

د افغانستان اسلامي امارت له نورو نه زیاته د خدمت زمینه، امن، صیانت او حفاظت ورته مهیا کړې دي آن چې د شر او فساد په دوهم مخ

اطلاعیه وزارت معادن و صنایع

فابریکه نساجي نخي کندهار به چند تن برقي هاي ساهر که در سوچبورد هاي ماشین آلات مهارت داشته باشند بخصوص برقي هاي فابریکات نساجي گلبهار، نساجي جبل السراج و سایر فابریکات صنعتي کشور ضرورت دارد.

اشخاصي که خواهش کار را داشته باشند تا مدت پنج روز بغرض عامل نساجي افغان واقع سرك پنجم تایمني وات مراجعه نمایند.

البته معاش کافي به ایشان پرداخته میشود.

اطلاعیه د آریانا افغان هوایي شرکت

د اریانا افغان هوایي شرکت در نظر دارد در اینده نزدیك هفته یك پرواز پروگرام خویش را از میدان هوایي بین المللي کندهار به امارات متحده عربي، امرتسر در هندوستان و بر عکس آن عملي و اجرا نماید و قرار است عین پرواز به کویت نیز تمدید گردد.

همچنان در کرایه مسافرین تخفیف قابل ملاحظه، در نظر گرفته شده مسافرین محترم جهت معلومات مزید در کابل به دفتر فروشات تکت بین المللي آریانا جوار هوتل کابل و در امرتسر و شارجه به نماینده گي هاي د آریانا افغان هوایي شرکت تماس حاصل نمایند .

شريعت

دتاسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي ګڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤۷۱) ټيلفون: ۲۰۰۷۵
په پيښور کي : د طالبانو نمايندګي ټيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

وخت کي و.. لا نقليه وسايط يې هم ورته پيدا کړي او ورسپارلي دي:

تو بيا يې ولي دومره ساده او اسانه خبره دومره غټه او دومره سخته کړه چي خپله دنده او مسلک پريښودلو ته يې ملا وتړله ؟ دوي دي اصولاً دغه فکر له ځانه سره ولري چي د نورو هيوادونو په څير دلته هم يو نظام دي او هغه به د خپلو اصولو د منلو غوښتنه کوي او تطبيقول به يې غواړي.

دوي دي لږ تر لږه دومره استعداد په ځان کي ولري چي د حاکم نظام اصولي او اسانه خبره ومني.

د افغانستان اسلامي امارت له مرستندويه ادارو څخه په ډېر درښتت هيله وکړه چي خپل دفترونه ټاکلي ځاي ته انتقال کړي او دا د ډېرو دلائلو له مخي د ادارو ظرفونو په ګټه دي يو دليل يې دا دي چي د موسسو افراد، مرسته او دفترونه د سوالګي وله يې وخته او يې ځايه هجوم څخه وژغورل شي او نور دلايل هم شته دي:

مګر له بده مرغه خبره يې دومره سخته، غټه او درنه وګڼله چي په دغه هکله د افغانستان له اسلامي امارت او ډېرو هيوادوالو سره ګڼ سوالونه او پوښتني را پيدا شوي چي دلته به څه وي ؟؟؟

دوي و يې چي موږ کنډوالو ته ېيايي ، موږ وايو چي کنډوالي ته دي په فني شکل او جوړښت جوړي شوي ودانۍ دي يو څه صفايي او کم ترميم به غواړي دغه کم ترميم د دومره پلمو خبره نه ده او که کنډوالي واي نو هم دوي ته لازمه وه چي د پلمو په ځاي يې ودانولو ته ملا راسره تړلي واي، ځکه چي زموږ هيواد بهرنيو او داخلي ظالمانو ټول کنډواله کړي دي او مرستندو به اداري د بيا ودانولو تر شعار لاندي دلته راغلي دي او دا غم يې د ټړي په مويه کړي دي، نه دا چي د عيش او ارام ژوند لپاره راغلي، دي مزي به کوي، نور پټ او مرموز مقصدونه به حاصلوي:

موږ .. ځل بيا هيله ور څخه کوو چي دلته د دوي د کار او فعاليت لپاره د قدر ور زمينه برابره ده له ټاکل شوي ځاي نه دي خپل کار ته د زړه په مينه دوام ورکړي:

موږ مسلمانان په دغه عقيده او باور يو چي الله تعالي روزي رسان دي هغه جل جلاله خپل مخلوق ته د ټول ټول سببونو له مخي روزي وروسوي که چيرته دغه موسسي - چي د يو سبب حيثيت لري - زموږ په يي وژله هيوادوالو باندي د يوي پلمي له مخي خپلي مرستي ودروي نو الله تعالي به هرو مرو د دغه متبادل سبب لا په خوا تيار کړي وي، زموږ توکل په الله تعالي دي.

« هو خير الرازقين

د بربادۍ مسؤولين ؟

پټي پاڼې

شهرت ننګيال

ښاغلي برها الدين رباني په امريکا کي د خپريدونکي اوونيزي «اميد» سره په يوه مرکه کي څرګنده کړي چي د کابل د بربادي او تباهي مسوول حکمتيار دی، ک حکمتيار شپږ کاله د مخه جنګ نه واي پيل کړي او پر کابل يې د راکټونو باران نه واي جوړ کړاي افغان ولس به لداسي ستړو معصيبتونو سره نه وو مخامخ شوي، دا حکمتيار ؤ چي د جګړي اور يې بل او وطن يې برباد کړ، له هغې ځايه ده چي د مجاهد ولس ارمانونه ټول تالا تر غه شول او تر اوسه دده له خوا بل کړي اور ګل شوي نه دي. حکمتيار کابل په کنډوالو بدل کړ او په زرګونو خلک يې ووژل، دده له وينا وو تر اوسه هم د شربوي راځي. که څه هم موږ فکر کاوه له ايران نه به له راستنيدو سره دده سرته سد ورغلي او اصلاح شوي وي خو داسي معلوميږي چي دي لا تر اوسه هم له خپل خره نه دي کوز شوي.. دا د استاد رباني څرګندوني دي چي د حکمتيار صاحب په اړه يې کړي ، چي سړي يې نه ل بوي مخي ردولاي شي او نه يې منلاي شي د هغه اسرائيلي خبرنګار په وينا پدي کي څه حقيقت ، څه دروغ او مبالغه دري واړه ليدل کيږي . حکمتيار صاحب چي لومړي پلا پر کابل جنګ پيل کړ دليل يې دا :

چي دي د ګلم جم مليشو او پرچميانو پر خلاف جنګيږي نه د احمد شاه مسعود او رباني صاحب پر خلاف، ځکه خو ده شعار ورکړ: جنګ، جنګ تا ختم ګلم جم، خو شعارونه زياتره دخولي خبري وي ځکه خو د حکمتيار صاحب دغه شعار هم عملي نشو او بله ورځ يې له ګليم جم سره د هم غږي تړون لاسليک کړ، دليل يې داؤ چي پدي کار يې د هيواد د تجزيي مخنيوله. ښايي حکمتيار صاحب ووايي چي په سياست کي وروستي خبره نشته ځکه خو امکان لري چي سبا بل سبا يو ځل بيا روا او ناروا واوري راواوري او استاد رباني هم په جيب کي د کفر او اسلام ټاپي له سره پريوه بل ولګوي.

دا شوي د حکمتيار صاحب په اړه د رباني صاحب څرګندوني يا په بله وينا د صدراعظم په هکله د جمهور رئيس اظهارات .

د استاد رباني بل کمال دادي چي دده د شامي حس دومره پياوړي شوي چي د حکمتيار صاحب په خبرو کي د شربوي هم پيژندلي شي، سړي نه پوهيږي چي رباني صاحب د حکمتيار صاحب د خولي بوي حس کړي که د خبرو ، که د خبرو بوي يې حس کړي وي نو په رښتيا هم چي دده د شامي حس له ټولو پياوړي دي چي پخواني ريکاردونه يې ټول پري مات کړي دي.

رباني صاحب داسي ګڼي لکه ايران چي د اړالمجانين يا د رواني ناروغيو روغتون وي چي حکمتيار صاحب به هلته خپل علاج کړي وي او نور به يې سو سرته ورغلي او اصلاح شوي وي.

کابل به د حکمتيار پر توغنديو او راکټونو وران شوي وي خو د کابل ملي شتمني او عزت چالوټ کړ، بانکونه او دولتي زيرمي چاچور کړي او د خلکو له پت او عزت سره چالوبي وکړي !

که حکمتيار صاحب کابل وران کړي نو دا د رباني صاحب په اصطلاح د اسلامي حکومت صدراعظم وران کړي، د يوه جمهور رئيس صدراعظم چي وراني کوي د جمهور رئيس له ملا مشوري او موافقي پرته يې نشي کولاي!

آخر جمهور رئيس څنګه د خپل صدراعظم د تخريب او وراني له اقداماتو ځانته برأت ورکولاي شي.

وطن که جوړه وي که يې ورانوي جمهور رئيس او صدراعظم يې جوړه وي او ورانوي صدراعظم کولاي شي د وراني پړه پر جمهور رئيس ورو اچوي خو چي جمهور رئيس دغه پړه پر صدراعظم وراچوي دا نو د بي کفايتي له انتها نه هم اخوا خبره ده .

شه شوه چي رباني صاحب د خپل صدراعظم پر جرم او ګناه اعتراف وکړ، هيله ده چي سبا د دفاع وزير ښاغلي مسعود پر جرم او خيانت هم داسي اقرار وکړي او و وايي چي د کابل د تباهي او زما (رباني) د بي عزتي او دربدري مسؤول احمد شاه مسعود دي . که ده د جبل السراج ناولي تړون له ګلم جم او پرچم سره نه واي لاسليک کړي نه به وطن ورانيده او نه به زه (رباني) بي عزته او دربدره کيدم.

کورني فقه

پرله پسي ٤۳

د سرو او سپينو زرو، وريښمو او جواهراتو د استعمال حکم

د سرو او سپينو زرو او جواهراتو د لوښو او د وريښمو د بسترې استعمال

قاضي محمد حسن "حقيار"

د پورتنيو دوه وروستيو احاديثو له وروستي جملي نه ښکاريږي چي رسول الله «ص» حضرت علي او حضرت عمر «رض» ته د وريښمو چپني ددي لپاره نه وي ورليږلي چي پخپله يې واغوندي بلکه ددي لپاره يې ورليږلي وي چي لکه رسول الله «ص» چي پخپله حضرت عمر ته څرګنده کړه چي يا يې خرڅه کړي او يايې بل چا ته (ښځي ته) وواغوندي. نو له دي روايتونو څخه د نارينه لپاره د وريښمو د جامي حرمت په ډاګه څرګنديږي همدا راز د نارينه لپاره د سرو زرو د استعمال په هکله هم ګڼ روايات راغلي دي چي د ټولو يادول به دلته د بحث له حوصلي نه وتلي خبره وي خود مثال په توګه به څو روايات نقل راکړو.

حضرت برد ، ابن عازب «رض» روايت کوي چي موږ رسول الله «ص» له اوه شيانو څخه منع کړلو لومړي: د سرو زرو د ګوتي له استعمال نه دوهم له ... « بخاري.

حضرت ابو هريرة «رض» روايت کوي چي « انه نهي عن خاتم الذهب » يعني : رسول الله«ص» د سرو زرو د ګوتي له استعمال نه منع کړيده « بخاري

نافع له ابن عمر «رض» نه روايت کوي چي رسول الله ﷺ سرو زرو يا سپينو زرو يوه ګوته (مهر) واخست چي محمد رسول الله په کي ليکل شوي وو نو نورو صحابه و هم همداسي وکړل کله چي رسول الله ﷺ نور صحابه وليدل چي دا ټول مهرونه يې جوړ کړل نو خپل مهر يې وغورځاوه ويي ويل چي : هيڅکله به يې بيا په ګوته نکړم بيا يې د سپينو زرو مهر جوړ کړ او صحابه و هم د سپينو زرو ګوتي او مهرونه جوړ کړل. ابن عمر «رض» وايي چي په رسول الله «ص» پسي حضرت ابوبکر«رض» ، بيا حضرت عمر «رض» او بيا حضرت عثمان«رض» مهر په ګوته کړ تر دي چي له حضرت عثمان «رض» نه د «اريس» په کوهي کي ولويد « بخاري.

عبدالله ابن عمر «رض» روايت کوي چي « کان رسول الله يلبس خاتماً... »

يعني « رسول الله به د سرو زرو ګوته په ګوته کوله بيايي وغورځوله او ويي ويل چي بيا به يې هيڅکله هم په ګوته نکړم نورو صحابه و هم (د رسول الله «ص» ددي کار په ليدلو سره) خپل ګوتې (مهرونه) وغورځول .

نو ددي او داسي نورو ډېرو رواياتو څخه څرګنديږي چي د نارينه لپاره د سرو زرو استعمال په قطعي ډول حرام دي.

د وريښمو او د ديباجو د ټوټې د حرمت په هکله بايد وويل شي چي که چيري څوک ناروغي ولري او د وريښمو او ديباجو د جامي په اغوستلو سره ښه او روغتيا موندي نو بيا ورته ددي ټوټو استعمال روا دي د بيلګي په ډول که چاته د پوستکي ناروغي يا په ساده ډول د بدن خارښت پيدا شو او رښتوني ډاکټر ورته د وريښمو يا ديباجو د استعمال نسخه تجويز کړه نو ده ته يې استعمال روا دي ځکه چي : الضرورات تبيح المحظورات : يعني عذرونه منع شوي شيان روا کوي.

حضرت انس «رض» روايت کوي چي رسول الله «ص» حضرت زبير او حضرت عبدالرحمن «رض» ته د دوي په بدن د خارښت له کبله د وريښمو د اغوستلو اجازه کړي وه ... بخاري .

اروابښاد ساهو د داسي ځانګړتياو خاوند وچي په معاصرو شاعرانو کي يي سيال ډېر کم موندي شو

داکټر محمد نذير «احمدزي»

تر هر څه دمخه د هيواد د ځوان مفکر ، تيمه خوا او ارمانجن شاعر او پياوړي ليکوال ګران امان الله «ساهو» د ناځاپي او دردناکي مړيني له کبله د هغه مجاهد، شاعر، اديب او استاد پلار محترم پسرلي صاحب او د جهاد او هجرت، د شعر او شاعري او ولسي ادب پالونکو او مينه والو ته د تسليت او ژوري خواشيني مراتب څرګندوم . مرحوم ساهو صاحب ته له پاک خداي«ج» څخه فردوس جنت او پاتي خپلوانو ، مينه والو او ټولو هنر او ادب دوستانو ته د جميل صبر غوښتنه کوم.

ساهو هغه ځوان ؤ چي ځواني يې له کړاوونو سره يو ځاي پيل شوه، په سختيو کي پوخ شو، او کله چي يې د هيلو غوټي په غوړيدو شوي له ډېرو ارمانو سره يو ځاي تر خاورو لاندي شو . ساهو د دردونو، زګيروبو، اوښکو او وينو، زخمونو او اسويلو په چاپيريال کي اوسيدلي، د روزګار تاړاکونو يې زړه پوخ کړي او د يوه روڼ سباون په هيلو کي يې پوستکي پر هډوکو وچ شوي وه ساهو يو با ايمانه، اسلام او هيواد ته مخلص او د يوه رښتيني پر مختللي او خپلواکه اسلامي نظام د ټينګيدو هڅه ناګه سپاهي و هغه د حالاتو د بدلونونو په مقابل کي ډېر حساس او د کړاوونو د مقابلي په ډګر کي د پوره حوصلي لرونکي وه هغه د خپل ځواکمن قلم او خوږي ژبي په وسيله د حق چيغه هيوادوالو او بيا ټولي نړي ته ورسوله، هغه د خپل خواږه شعر په قالب کي پر خپلو هيوادوالو د پرديو د مزدوروانو(خلقيانو او پرچميانو) ظلمونه وغندل او بيايي دروسي سره پوځ د يرغل په دوران کي قلم له خپلو وينو ډک او د خپل اسلامي ټاټوبي د آزادي په لار کي يې په ميړانه په سنګر او هجرت کي خپله جهادي فريضه سرته ورسوله. د کمونيستانو له سقوط څخه وروسته د خپل منځيو جګړو په دوران کي هم ساهو د قلم په ژبه په چيغو چيغو ډېر ژړل او هري دروازي ته نيوات ورغي تر څو دده ګران هيواد نور وران نشي او د شهيدانو په وينو ګنلي ټپوال وبار يي بد نام نکړي، خو چاپي غوږ وانه وريد. د طالبانو د اسلامي تحريک په را منځته کيدو او د اسلامي امارت له تشکيل سره سم يې د خپلو هيلو بڼ يو ځل بيا سمسور وليد او بيايي وچي شونډي د هيلو په خندا مسکي شوي . هغه خپل اسلامي امارت ته ډېر سمسوار ، او څو ځلي د هجرت له کور څخه هيواد ته دننه راغلي او له چاروا کو سره يې په هره برخه کي لازمي خبري او مشوري وکړي. دګران ساهو خوږه ژبه، قاطع او غوڅي خبري او له حکمته ډکي مشوري د هغه خاصي ځانګړتياوي وي چي د خبرو په جريان کي يې پوره څرګنديدي . اروابښاد ساهو داسي صفات درلودل چي په نورو معاصرو شاعرانو او اديبانو کي يې سيال ډېر کم ليدلي شوي، هغه ډېر پخواني مهاجر او مجاهد او له هر راز تعصباتو څخه پاك وه د حق په پيژندنه کي يې پوره صلاحيت درلود او تل يې پيروي او حمايت ترينه کاوه، هيڅ چاته يې هيڅ راز شخصي هيله او اميد نه درلود، له هر راز طمعي څخه مبرا او قناعت کي يې خپل عزت موندلي وه، په شخصي ګټو پسي دروازه په دروازه ونه ګرځيد او نه يې يې ځايه د چا په صفت قلم وخوځاوه. ساهو په داسي حال کي له دي نړۍ څخه سترګي پټي کړي چي د هغه د شعر د بڼ ګلان غوړيدلي او بلبلان يې دبڼ ته هڅيدلي او راغلي وه، هغه په هيواد کي د متعهدي او له مسؤليت نه ډکي شاعري بڼ ته اوبه ورکړي او ډېر مړه زړونه يې راژوندي کړل او بالاخره ساهو هغه ځوان وه چي په مړينه يې ډېرو آشنا او نا آشنا خلکو وژړل چي د يوه انسان لپاره همدا بس ده چي په مړينه يې خپل او پردي خواشيني شي لکه شاعر چي وايي :

هيچ داني که روز آمدنت
همه خندان بودند و تو ګريان
آن چنان کن که هنګام رفتنت
همه ګريان باشند و تو خندان
* * *

چي پيدا شوي تا ژړل خلکو خندا کړه
داسي مر شه چي ته خاندي خلك ژاړي

د ساهو په ياد

داکټر باز محمد «ښادمن»

مه راته ژاړه د خيال بلبله
قافله ولاړه يوه په بله
پاڼه به تښتو خزان را دروسي
ښکلي بلبله ښايسته ګله
ساهو، ساهو و چيرته لاهو شو
چيرته لاهو شو هلته ساهو شو
د خيال پر بڼ يې ماتم راجوړ کړ
ورک مو له سترګو لکه آهو شو
خداي«ج» دي په ملنه شه اي نازولي
له کوره لري وګورته تللي
«ښادمن» به تل کا درته دعاوي
د ګلو پرخي په زړونو کښېلي

تصوف و عرفان

"بيدل" كسي به عرش حـــــقيقت نمي رسد
تا خاك پاي احمد مرســـــــل نمي شود

سير تحول خانقاه و پيدايش آن

تتبع و نگارش از مهر الله دردمند

۱۷

آنچه را كه دوستداران علم طيبه سلوك و طريقت، خانقاهيان اصيل با معرفت و جويندگان مسير حقيقت بايد بدانند. درطي شماره گذشته اين سلسله در مورد استفاده جويي هاي نامطلوب كه از نام علم طيبه سلوك و طريقت و خانقاهائيكه در دوره رژيم پوشالي (نجيب) بخاطر فريب و نيرنگ ، كسب شهرت، ادامه قدرت و بالاخره جهت گمراه سازي عده بي بي خبر از معرفت ، پا بعرصه وجود گذاشت، تا اندازه بي جهت آگاهي دوستداران سير و تحول خانقاه روشني انداخته شد. درين بخش باز هم توجه مزيد شما عزيزان گرامي را به نكات چند در مورد شناخت تصوف حقيقي اسلامي كه باعث فلاح و رستگاري دارين ميگردد، معطوف داشته و هم شيوه هاي ديگريكه تحت نام تصوف و طريقت كه منجر به گمراهي ميگردند، بطور مختصر ياد آوري ميشود، تا باشد جوينده گان طريقت و پويندگان معرفت و حقيقت هوشيارانه و محتاطانه درين مسير گام برداشته و به ساحل مقصود كه همانا كمال بنده گي حقيقي و زنده گي اصلي كه عبارت از زنده شدن قلب به ياد خداوند «ج» و جاري شدن انوار عبادت در وجود است ، به توفيق رب العزت «ج» رهياب گرديم.

داديم ترا ز گنج مقصود نشان   ما گر نرسيديم تو شايد برسي

بدانكه مدعيان تصوف جدا شده اند به فرقه هاي مختلف كه اقليت آن پيرو دقيق سنت سنيه و پابند بحكم شريعت عاليه نبويه «ص» بوده يعني اهل سنت و جماعت(ناجيه) اند، ديگران اهل بدعت و گمراهي.

طايفه متصوفين كرام كه متمسك مي باشند به شريعت نبويه «ص» ايشان كساني اند تعليم گيرند از كتاب الله و سنت رسول الله «ص» و لهذا كم يافت ميشوند. كسانيكه اقتدا كند به ايشان كه اهل ارشاد اند، آنانرا دو شاهد باشد، يكي ظاهر و ديگر باطن. ظاهر آنان استحكام يافته است به امور شريعت شريفه و باطن ايشان منور گرديده است به نور بصيرت . يعني جاري شده است در وجود شريف شان انوار عبادت و تجليات حقيقت . پس لازم است به كسيكه اقتدا مي شود، بايد شجره و سلسله معنوي آن به حضرت امام رباني شيخ احمد فاروقي كابلي (سرهندي) كه ايشان مجدد الف ثاني در بين امت كافه مسلمين در هزارم هجري مي باشند رسيده و از آن طريق به حضرت خاتم الانبيا المرسلين جناب محمد رسول الله «ص» برسد. به تحقيق كه نميباشد سلوك و روش او بر كوري و گمراهي در غير آن :

ترسم كه بكعبه نرسي اي اعرابي
اين ره كه تو ميروي به تركستان است

معرفي هر يك اهل بدعت و گمراهي :

طايفه ي از مدعيان تصوف باشند كه ديدن بروي زنان زيبا و پسران نا بالغ را حلال دانند و گويند كه درين صفت الله و تعالي «ج» است. هم چنان طايفه ديگر رقص و ضرب دست را حلال دانند و هم قايل اند بر اينكه از براي شيخ و مرشد حالتي است كه در شرع اعتبار ندارد. طايفه سومي عقيده دارند بر اينكه ، وقتي برسد بنده به مرتبه ولايت ، ساقط ميگردد از او تكاليف شرعي و هم گويند كه ولي افضل است از نبي، بدين سب كه علم نبي بواسطه ملائيك (جبرئيل امين«ع») باشد و علم ولي بدون واسطه مخلوقات ذريعه الهام قلبي يعني وحي خفي ميباشد.

گروه ديگر را عقيده بر اين است كه ساقط ميگردد از ايشان اوامر و نواهي ، حلال ميدانند سرود و موسيقي را آواز و خوشخواني را (ملاهي و مناهي را) ومي گويند وقتيكه بنده برسد بدرجه محبت يعني فنا في الله، ساقط ميگردد از او در آنوقت تكاليف شرعيه .

طايفه ديگر ازين گروه، ستر نمي كنند عورت شانرا در بين هم ترك مينمايند معروف را اصرار مي ورزند بر منكرات، حلال دانند براي خويش آنچه را كه شرع حرام قرار داده است، ترك نمايند كسب پسنديده و حلال را، سوال كنند از دروازه ها ، دعوي كنند خلاف باطن شان، يعني دعوي بزرگي ، كشف و كرامت نمايند به زبان. طايفه ديگر، ترك نمايند علم دين و طلب معرفت را و گويند ممكن نيست از براي بنده كه توسط معرفت به شناخت قدرت او تعالي «ج» نايل آيد .

ادامه دارد

مجـــــدد الف ثاني ...؟

خواننده گان محترم ! به سلسله معرفي مشاهير اسلام در تصوف و عرفان كه شخصيت جناب مستطاب امام رباني (مجدد الف ثاني) براي برخي از خوانندگان در كلمه (مجدد الف ثاني) ابهامي رخ نداده باشد درمقاله حاضر در اين مورد توضيحات لازم تقديم ميگردد.

مجدد : به معناي تجديد كننده و قوت دهنده دين است، چنانچه رسول كريم «ص» فرموده اند : ترجمه : به تحقيق خداوند لايزال «ج» براي اين امت در آغاز هر قرن كسي را ميفرستد كه امور دين و تجديد بخشد. (مشكواة شريف)

يعني خداوند«ج» يكي از امتان آنحضرت «ص» را كه داراي علم كامل، معرفت كامل، و تقوي كامل باشد بحيث مجدد آن قرن بميان مي آورد ـ مسلمانانرا در راه توحيد و تحكيم دين مبين اسلام ارشاد و رهنمون نمايد. هم چنان انحرافات و نا بسامانی هائيكه در گذشته در ميان امت اسلامي صورت گرفته باشد آنرا بواسطه بيان حقايق توضيح داده و جهاد تبليغي را مبني بر اصلاح امور ديني براه اندازد . هم چنان در آغاز سال هزارم بحساب هجري قمري نيز مجددي بميان مي آيد كه بايد از نگاه علم، معرفت، تقوي و سجاياي اخلاقي در بين جمله مسلمين جهان داراي برازندگي عالي، كامل و ممتاز باشد، تا باعث ارشاد خلق به صراط المستقيم گرديده و از انحرافات عقيدوي و ديگر اختلافات امت جلوگيري نمايد.

اين فضل و كرم بي پايان خداوندي در سال هزارم هجري نصيب حضرت امام رباني شيخ احمد فاروقي كابلي (سرهندي) گرديد كه در قرن دهم هجري يعني سال هزارم اسلامي بحيث مجدد الف ثاني ظهور نمود.

در دوره هاي پيش از نبوت رسول اكرم «ص» بصورت اغلب در آغاز سال هزارم هر دوره تاريخ يعني بعد از گذشت هر هزار سال از جانب خداوند«ج» براي رهنمايي ثقلين (انس و جن) پيامبر اولعزم نوين با يك آئين و برنامه جديد احكام الهي ظهور مي نمود و مردم را در راه توحيد و دوري از شرك و گمراهي دعوت مي نمودند. امكان آن ميرفت كه در خلال اين هزار سال چندين كس از حضرات انبيا، عظام ديگر به حيث نبي نيز ظهور نموده و همه بي آنها دين و روش همان پيامبر اولو العزم گذشته را در بين مردم تبليغ ميكردند. البته اين سلسله تا ظهور سردار عالم فخر آدم محمد رسول الله «ص» ادامه پيدا نمود. بالاخره مشيت حضرت رب العزت «ج» درين رفته است كه فخر موجودات و سردار كاينات «ص» را آخرين پيامبران و برگزيده ترين آنها گردانيد. دعوت او را كامل ترين دعوت ها و اُمتان آنحضرت «ص» را بنام «خير الامم» يعني بهترين امت ها اعلام داشت . هم چنان علماي اين امت را به موجب فرموده رسول كريم «ص» همانند انبياي بني اسرائيل گردانيد. از سنت لا يتغير الهي «ج» اينست كه در آغاز هر صد سال ظهور «مجدد» را نيز براي احيأ امور ديني امتان آنحضرت «ص» بشارت داد . با در نظر داشت اينكه در آغاز هر صد سال مجدد است و در آغاز سال هزارم هجري قمري نيز ظهور مجدد الف ثاني در بين علماي محققين و اولياي كرام حتمي ميباشد.

فرقيكه دوران هاي گذشته در بين يك پيامبر نبي و يك پيامبر صاحب كتاب و آئين جديد يعني اولوالعزم موجود بود همان تفاوت در مجدد هر صد سال و مجدد الف (هزار) ميباشد.

در اخير قرن نهم هجري و در اوايل قرن دهم در حاليكه در سراسر نيم قاره هند و غيره نقاط عالم اسلام انحرافات عقيدوي رونما گرديد كه در نتيجه در ديار هندوستان در بين مسلمانان باعث بوجود آمدن «آئين اكبري» و ظهور مسلك «ذكري ها» در سر زمين سند و بلوچستان گرديد. هم چنان در اثر تبليغات بودائيزم، براهمه و مرتاضان هندوئيزم و ساير دشمنان دين مبين اسلام، آئين مقدس اسلامي و عرفان و تصوف اسلامي رو به انحطاط ميرفت و يك نوع انحرافات عقيدوي و بحرانات تخريبي بشدت جريان يافت و بالاخره مسلمانان بسوي گمراهي آشكارتشويق،ترغيبودعوتگرديدند.

همانا درين موضع حساس تاريخي و شرايط ناگوار آن دوره مجاهد حقاني و مجتهد صمداني عالم احكام شريعت و اسرار معرفت يعني حضرت امام رباني (مجدد الف ثاني) بحيث مجدد سال هزار بميان آمد. حضرت موصوف در مدت بسيار كوتاهي ذريعه بيان حقايق و ارشادات ديني مسلمانان نيم قاره هند و ديگر سرزمين هاي اسلامي را توسط تبليغ و ارشاد ديني به نور حقيقت اسلام و فيوضات عرفاني منور گردانيد.

مخالفت پيروان «اكبري» به شمول خود اكبر جلال الدين سلطان مقتدر مغولي در هند و هم چنان مخالفت ذكري ها كه مسلمانان را از عبادت منع نموده و همه عبادات را منحصر به ذكر ميدانستند و تبليغات پيروان بودائيزم، براهمه و هندوئيزم و ديگر معاندين و مخالفين دين نجات بخش اسلام در برابر جهاد تبليغي و علمي و بيان حقايق امام رباني جايي را نگرفت، بالاخره همه آنها در مقابل اظهار حقايق و مبارزه عرفاني حضرت امام سر تسليم خم نمودند و در نتيجه دعوت اين مبارز بزرگ همبستگي ملل اسلامي در آنوقت تأمين و باعث تقويت خلافت عثماني در تركيه گرديد. هم چنان شاگردان حضرت امام متكي به دستور حضرت شان، در سراسر عالم اسلام پراگنده گرديده دعوت حق را عليه باطل با موفقيت به پيش بردند. از آن وقت كه تا كنون بيشتر از چهار قرن ميگذرد كافه امت اسلامي حضرت مذكور را بحيث امام و مجدد سال هزارم اسلامي احترام داشته و از ارشادات حقايق اين شخصيت روحاني جهان اسلام مستفيد گرديده اند.

د تصوف د جوړښت بنسټيز عناصر

اقتباس له قلبي ميني كتاب ځخه   پر له پسي

د ميني مقامونه

۱- رښتيا ۲- مستي ۳- نيمنى

:

حضرت محي الدين ابن عربي «رح» وايي چي : مينه په زړه او روح احساسيږي چي د لفظي تعريف ځخه وتلي دي. دي وايي چي : مينه هغه مشروب دي چي ځوك نه يې اوبيږي دي «رح» د الهي تجلي او عشق په باره كښي وايي چي (عشق) د تجلي د اندازي په مقدار وي، او تجلي : (معرفت) په اندازه وي.

حضرت خواجه احمد غزالي «رح» پخپل تاليف بحر الحقيقت كښي : مقاماتو په ارتباط د اوو بحرو ځخه بحث كړي دي چي صوفي او سالك : دي لپاره چي د خداي«ج» د رحمت، جمال او جلال د انوارو د پلوشو : ليدو او نژديوالي وړوګرځي بايد : هغو ځخه تير شي دا بحرونه په دي ډول بيانوي :

۱- د (معرفت) بحر دي چي (يقين) بي جوهر دي .

۲- د (جلال) بحر دي چي (حيرت) بي جوهر دي.

۳- د(وحدانيت) بحر دي چي (ژوند) بي جوهر دي

٤- د (ربوبيت) بحر دي چي (پايښت) بي جوهر دي.

٥- د (الوهيت) بحر دي چي (وصال) بي جوهر دي.

٦- د (جمال) بحر دي چي (رعايت) بي جوهر دي .

٧- د(مشاهدي) بحر دي چي (فقر) بي جوهر دي .

دي وايي چي دا (بحرونه) لكه ظاهري بحرونه چي محدث او تر قدم لاندي دي نه پريكيږي.. د دي بحرو ځخه تيريده د هغه مسافر په برخه كيږي چي حق سبحانه و تعالي خپل د خداي«ج» د هر صفت آثارهغه ته ځرګند كړي او پخپلو نعمتو كي بي ډوب كاندي او د دي كشف د پلوشه ته بي عقل مات كړي ځو هغه معاني چي په ده كښي نغښتي دي، د حق مشاهدي كوونكي شي.

حضرت امام غزالي «رح» د خپل مشهور اثر (احياء علوم الدين) په كتاب كښي زهد او تقوي د روح د پاكولو وسيله ګڼي او د روحاني ژوند مقدمه بي بولي. دي «رح» د طريقت مقامات په لاندي نهو مرحلو كښي ذكر كوي :

۱- توبه : د پخوانيو اواوسنيو ټولو ګناهو ځخه توبه كول او په راتلونكي كښي د هغو د تكرار مخنيوي.

۲- صبر : په غمونو او مصيبتونو كښي حوصله كول .

۳- د شكر : د خداي «ج» د رحمت او نعمت په مقابل كښي تل شكر كول.

٤- خوف :د خداي«ج» ځخه په هر حال كښي ويره .

٥- رجاء : د خداي «ج» ځخه د خپل نجات په مورد كښي هيله درلودل.

٦- فقر : پخپله خوښه درويشي اختيارول.

٧- زهد : د دنيايي مسايلو ځخه حتي الوسع ډډه كول.

٨- توكل : د خپلي ارادي ترك كول او خداي«ج» ته اميد.

٩- محبت : د الله تعالي «ج» سره عرفاني مينه .

مطالعه عصر تيموريان وظهور حضرت بهاالدين محمد نقشبند بخاري (رح)

روستايي

قرن نهم هجري در تاريخ سرزمين ما تقريباً در تمام قلمرو آسياي مركزي بعد ازحملات و ويرانگري هاي چنگيزي، از آرامش نسبي برخوردار بود. فرهنگ و تمدن آن دوره بحدي نيرومند گرديد كه شهزاده گان و ديگر بازمانده گان تاتاريهاي مغول را نيز تحت تاثير خويش در آورده و حتي افكار آنان را بخويش جلب نمود كه در نتيجه در نسل سوم چنگيزي امرأ و شاهان مؤدب، متدين و هنر پرور را بوجود آورد . شهر هاي تاريخي بخارا، سمرقند و خيوه بار ديگر به مشابه پرورشگاه ادب، عرفان و تصوف، مركز مهم شهكاريها و هنر هاي گوناگون گرديد. تقريباً يكصد و هفتاد سال بعد از ظهور صاعقه چنگيز از همين نسل و نژاد شخص مقتدر، با صلابت و داراي اراده آهنين بنام تيمور خروج نمود كه لشكر كشي او به همان شيوه سابق آبايي اش (چنگيز) صورت گرفت، مگر در فرهنگ و كشور خويش كاملاً با روحيه ديگر يعني ادات اسلامي و رسوم خراساني آن زمان مجهز بود.

در اين مقطع زمان طبقات عوام كه در اثر جنگ هاي متعدد و لشكر كشي هاي پي در پي تيمور كه با شيوه تشدد هولناك نظامي و رقابت هاي ملوك الطوايفي ناشي از حملات پيهم عليه يكديگر همراه بود ، روح و روان مردم پژمرده و افسرده گرديده و خواهان آرامش روحي و پناهگاه معنوي بودند.

اين پناهگاه معنوي مردم ستم ديده چه ميتوانست ؟ باشد

پناهگاه مطمين گم شده ايشان كه دامان آن بايد از غبار تعلقات مادي و آلايش هاي مغرضانه دنيوي پاك باشد و بمشابه پرورشگاه معنوي برحيات مردمان آن دوره مسلط و داراي آن ارزش و تاثير قوي باشد كه حتي فرمانروايان نيز به نظر قبول وحرمت در آن نگريسته و از اهميت معنوي آن چشم پوشي كرده نمي توانستند و بالاخره خدا جويانيكه دل هاي شان از كدورت و اوضاع نا بسامان آنروزگار به ستوه آمده بود به پنگاه معنوي عرفان و تصوف و علم طيبه سلوك و طريقت، غرض سكون و آرامش باطني و دور نمودن اضطراب رواني خويش كه تا اعماق قلب ها ريشه دوانيده بود روي آوردند.

جامعه شناسان و دانشمندان بشري بدين حقيقت پي برده و اعتراف نموده اند كه قوانين و نظم هر ملتي زاده احتياجات و تمايلات آن ملت است چنانچه در مسايل بحث فلسفي و كلامي در جامعه اسلامي در گذشته ها و تا همين اكنون فرقه هاي متعدد در ادوار مختلف بوجود آمده و هم چنان در سير روحي و معنوي نيز طريقه هاي در تصوف و عرفان نيز پديد آمده اند كه مشهور و معروف ترين شان چهار طريقت هر يك: نقشبنديه شريف، قادريه شريف، سهرورديه شريف و چشتيه شريف مي باشد. طرايق اربعه فوق هر كدام داراي روش و اسلوب خاص خود بوده و هر يكي سير الي لله را مطابق ضرورت همان زمان و رجحان عصر خويش ترتيب و تنظيم نموده و رواج يافته است .

مؤسسان و سر حلقه هاي هر طريقت كوشيده اند كه پيروان خويشرا با اصول و ضوابط خاصي براي به هدف رسيدن مقصد كه همانا اطمينان قلبي، آرامش روحي و حقيقت بنده گي در آن نهفته است، ترتيب و رهنمايي نمايند.

البته كدام اختلافي در مقصد و غايه اين طرايق اربعه نبوده در تمام سر زمين هاي اسلامي از المغرب گرفته تا چين و بنگال و اندلس.. همه در يك مسير مقدس (موصل الي الله) بوده و حركت نموده است .

اختلافات جزئيكه در آن وجود دارد مانند اختلافات پيچيده و قوي فرقه هاي فلسفي و كلامي كه بر استدلال استوار مي باشند نبوده ، بلكه همه كوشيده اند تا راه نزديك تر و شيوه آسان تر را بسوي حقيقت اصلي پيدا نموده تا باشد سالكان اين طريق زودتر و كامياب تر به منزل مقصود برسند.

ادامه دارد.

محترم مولوي محمد نبي محمدي د ...

پوښتنه : ځینې خلك داسي ... چي د طالبانو د مخکښو او مشهورو قیادتونو ۷۰٪ افراد ... د تنظیم پخواني غړي دي، او ... وجه ده چي تاسو، په هغوي ... باندي سیاسي اغیزي لري، آیا تاسو ... دي تأثر سره موافق یاست؟

ځواب : دا صحیح ده چي ۸۰٪ ... عمده او وتلي شخصیتونه زموږ د تنظیم منسوبین دي، ځکه په دوي کي ځیني مستقیما زموږ سره غړیتوب لري او څه نور بي د علم او مدرسي له درکه د حرکت انقلاب سره ارتباط لري. خو موږ په طالبانو باندي هیڅ سیاسي اغیزي نلرو. او کله مو چي د وروړګلوي کومي ... مشوري ورکړي هغه بي ډیري ... استقبال کړیدي باید دا هم ووایم چي ... موږ خپل ټول وسایل مالي امکانات ... و پوځي ډیپوګاني طالبانو ته تسلیم کړي او هیڅ مو هم ځانته ندي پریښي.

پوښتنه : آیا ستاسو د خبري مفهوم همدا ندي چي د حرکت انقلاب اسلامي سیاسي چوکاټ او تشکیلات پخپل ځاي دي او له طالبانو سره یواځي خواخوږي لري؟

ځواب : بلي خبره همداسي ده زموږ تنظیم منحل شوي ندي او دغه ته انحلال هم د ځینو ملاحظاتو پخاطر دي.

پوښتنه : جناب مولوي صاحب څو ورځي وړاندي د طالبانو د اسلامي تحریك مشر عالیقدر امیر المؤمنین د افغانستان سیاسي تنظیمونه لغوه او منحل اعلان کړل، او هغه بي د اختلاف او بدبیني بنسټ وباله ، تاسو پکي څه وایي.

ځواب : په ارګ کي مي د حضرت مجددي د جمهوري ریاست په لومړي یا دوهمه غونډه کي چي د قیادي شوري اکثر غړي پکي ناست وو ټولو ته وویل چي تحزب ناروا ده، راځي دا تنظیمونه لغوه اعلان کړو خو متاسفانه څوك دي کار ته حاضر نشول، اوس چي امیر المؤمنین کوم فرمان صادر کړي زه بي ملاتړ کوم او شرعي امر بي ګڼم.

پوښتنه : مجاهدینو د اسلامي نظام او د هیواد د آزادي لپاره ډیري حماسي وزیږولي، طالبانو هم اسلامي امارت اعلان کړي او د شریعت د پلي کولو زیار باسي، پوښتنه دا ده چي دوي دواړه اسلام غواړي، نو بیا ولي دومره خونړي جګړي رواني دي او دا د طالب او مجاهد تر منځ دومره فاصلي ولي ایجاد شویدي ؟

ځواب : د انصاف خبره خو دا ده چي دغو مشرانو او جهادي تنظیمونو ډیر ښه جهاد کړي او ملت ته بي د آزادي او قرباني روحیه ورکړي، خو قدرت ، شهرت اوجاه او جلال دوي له اصلي جادي منحرف کړل او بي لاري شول.

دغه روان جنګونه د پخوانیو تضادونو او ترېګنیو تسلسل دي، د مجاهدینو د حکومت په وخت کي په ټول ملك کي د انارشي، چور تالان او بي عفتي فضا واکمنه وه، نو قادر خداي د فتني د ختمولو او د شر او فساد د ټغر د راغونډولو لپاره دغه ضعیفه او د افغاني ټولني عاجزه قشر (طالبان) را پیدا کړل، او هر څوك چي وایي طالبان د امریکا ایجنټان دي، انګریزان دي او د بابر زامن دي، دوي دي له خدایه وویریږي زه په ایمان اطمینان درکوم او په آخرت ضمانت چي طالبان د دین وارثان او مخلص خلك دي.

د فاصلو بل عامل د هغو فاسقو بد عملو او پاټکي قوماندانانو غیر اسلامي او غیر انساني چار چلند و چي عام خلك ورڅخه پزي ته رسیدلي ؤ دریم سبب بي ملوك الطوایفي او په اداري او سیاسي لحاظ د افغانستان ویش او تجزیه ده.

پوښتنه : پنځو ورځو کي د دریمګړي قوت د تبارز او لویي جرګي لپاره هلي ځلي پیل شویدي او په پام کي ده چي د بُن په ښار کي د همدي هڅو د ګړندیتوب لپاره یوه غونډه جوړه شي، آیا لدي به څه ګوټ راووځي؟

ځواب : په صراحت سره به درته ووایم چي کوم حکومت طالبانو جوړ کړیدي، هغه اسلامي دي، هغه هم جهادي دي او هم ملي. دغه هلي ځلي او منډي رامنډي بي نتیجي دي. او دریم قوت جوړول د جنګ د نوي محاذ پرانستل دي زه پدي عقیده یم چي د طالبانو په موجودیت کي د لویي جرګي جوړولو ته هیڅ ضرورت نشته، پاکه او آسانه لار همدا ده چي دغه مخالف رهبران او ډلي دي خداي«ج» حاضر او ناظر وګڼي، له جنګ څخه دي لاس واخلي او له طالبانو سره دي ګډ حکومت جوړ کړي.

پوښتنه : ټول پوهیږو چي د افغانستان په کورنیو چارو کي په مختلفو شکلونو او ډولونو لاس وهني رواني دي، زما پوښتنه پدي اړخ پوري ارتباط لري چي مخنیوي بي په څه ډول ممکن دي؟

ځواب : د مداخلو د مخنیوي کیلي د متحاربو او جنګي ډلو په لاس کي ده، ځکه هر څوك غواړي چي د خپلو مالي او نظامي مرستو په بدل کي خپل فکري ایډیالوژیك اقتصادي او سیاسي ګټي تر لاسه کړي، خو مخکي لدي چي زه بهرنیانو ته ګوته ونیسم، افغانان ملامتوم چي دغه زمینه بي برابره کړیده، ځکه متل دي چي وایي تنور چي تود شي نو هندو هم پکي ډوډي پوري کوي.

د بن په غونډه کي د لويي جرګي د تدویر ...

لومړي ویناوال چي په خبرو کي بي د اختلاف رنګ معلوم شو هغه پروفیسور رسول امین ؤ هغه په خپله وینا کي دا خبره کړي ده چي د لويي جرګي په قدسیت او اهمیت باندي باید لويي ونشي د دي خبري معني دا ده چي ګویا د بن غونډه د لويي جرګي په قدسیت او اهمیت باندي لويي کول دي.

دوهم ویناوال چي په خبروکي بي نسبي مخالفت وښود هغه ډاکټر حسن کاکړ و هغه په خپلو خبرو کي ویلي دي چي په جرګه کي باید ټولي جنګي ډلي شاملي وي او یا داسي کسان په کي وي چي ډلي باور وربانَدي ولري هغه ویلي دي چي باید په جرګه باندي غور وشي او دا کار په بیړه سره ونشي ځکه چي نتایج به بي منفي وي.

هغه ویلي دي چي طالبان د جرګي په جوړیدو او فیصلو کي بیخي قاطع نقش لري او که طالبان ددي جرګي ملاتړ ونه کړي او د لويي جرګي سره ملګري نشي په هغه صورت کي لويه جرګه نشي کامیابیدلي او د کامیابي توقع تري په هیڅ صورت باندي نه کیږي.

د هلمند او ارغنداو د وادي لوی رئیس محترم مولوي ...

چي دري بي نصب شوي وو او د نیرو جنګونو له امله دا دري توربینونه هم خراب شوي وو چي موږ د خپلو هڅو په نتیجه کي یو توربین جوړ کړ دوهم به هم په همدي ورځو کي فعال شي.

پوښتنه : تر اوسه مو په کندهار ښار کي څو برجونه فعال کړیدي؟

ځواب: تر اوسه ددي مرکز تر وخته په ښار کي ۲۸ برجونه فعال شویدي په دوي کي د مختلف ظرفیت درلودنکي ترانسفارمرونه چي د ۶۰۰ کیلو واټ امپیر نه تیولي تر ۲۰۰۰ پوري شامل دي موږ اوس کافي ترانسفارمرونه لرو چي ۸۰ ترانسفارمرونه مو یوازي له هرات نه راوړي دي.

پوښتنه : آیا کافي فني پرسونل لري ؟

ځواب : بلي موږ په کندهار کي هم فني کسان لرو له کابل نه مو هم درخواستي کړیدي چي معاش بي وزارت ورکوي او موږ هم ورسره تشویقي مرسته کوو. په شوري کي پریکړه شویده چي موږ باید ... نفر وزو خو موږ تر اوسه کورسونه دایر کړي نه دي خو په عملي ډول مو د تخنیك کارانو سره شاګردان ورکړیدي چي کار زده کړي.

پوښتنه : له مرکز نه مو څه مرسته تر لاسه کړیده ؟

ځواب : په کابل کي چي څه د وزارت په اختیار کي وو او زموږ ورته ضرورت وو نور زموږ ضرورت یي پوره کړیدي.

پوښتنه : ترانسفارمر ایل (د ترانسفارمر تیل) لري او که نه ؟

ځواب : له دي پلوه زموږ مشکل بالکل حل دي موږ ته ۴۰ بیرل له سل د اوبو او برېښنا وزارت راکړیدي. ۲۵ بیرل له دتله موجود وو او ۲۱۰۰۰ لیتره تیل تیار په ۲۵ میګاواټه ترانسفارمر کي شته دي. او په ډیره پیمانه میترونه، هایدرولیك، د ترانسفارتیل، توربین او نوري اړتیاوي مو له دوبي نه راغوښتي دي او ځینو ملي سوداګرو هم وعدي کړیدي چي تر اوسه لا په عمل کي پیاده شوي نه دي همدا راز له بلغاریا نه مو هم لابراتوري سامان، کیبل، د اتومات سویچ او ۲۵ میګاواټه ترانسفارمر راغوښتي دي زه ویلي شم چي الحمد لله زموږ اړتیاوي پوره او د خپل کار په وړاندي هیڅ خنډ نه لرو.

پوښتنه : د ښاروالي د نقشي سره خو به ستاسو د کار پکر ... وي راغلي

ځواب : نه زموږ کار د ښاروالي له نقشي سره سم روان دي زموږ ټول سیستم د ځمکي لاندي دي او په اینده کي به هم له ښاروالي سره تر تفاهم وروسته کار کوو .

پوښتنه: آیا ورکشاپونه مو فعال دي ؟

ځواب : بلي موږ د کار لپاره فعال ورکشاپ لرو چي خپل ضرورت اکثره همدلته پوره کوو لکه ولډنګ، خرادي جوړول د برېښنا ستني، ویرنګ د ثقلیه وسایطو ترمیم ... حتي موږ د ترانسفارمر د بیا ډکولو لپاره هم فني پرسونل لرو خو د ترانسفارمر د ډکولو لپاره چي کوم ماشین په کار وي دغه نه لرو .

پوښتنه: څومره فعال وسایط لري؟

ځواب : موږ له بیلا بیلو ماشینونو او مراجعونه وسایط راوستي دي او خپل کار موږ روان کړي دي چي د کندهار برېښنا مربوط د فعالو او غیر فعالو ډولو وسایطو شمیر ۴۰ عرادو ته رسیږي چي ۲۰ په کي یواځي کوچني موټر دي د بیلا بیلو ظرفیتونو درلودونکي پنځه فعال کرین لرو.

پوښتنه : آیا نوي ودانۍ مو جوړه کړیده

ځواب : بلي د برېښنا ... ودانۍ هم ترمیم شوي ده، برجونه هم د ضرورت له مخي جوړ یا ترمیم شویدي خو د برېښنا د سب استیشن ودانۍ مو له خو اطاقونو او ملحقاتو سره له سره اساسي ودانه کړیده .

پوښتنه: د کجکي د برېښنا د بند د طول ، عرض او د ناصبي د ظرفیت په هکله معلومات ورکړي ؟

ځواب : ددي بند اوږدوالي ۲ کیلو متره سوربي حلور کیلو متره ده د تولید اعظمي ظرفیت بي ۱۵۰ میګا واټه دي د اوو توربینو د نصب لپاره ځاي لري چي د دري توربینو د تولید اعظمي حد بي ۱۶.۵ میګاواټه دي چي په همدوي کي اوس یو فعال دي بل به بي په همدي ورځو کي فعال شي او پاتي څلور توربینونه چي تر اوسه بالکل نصب شوي نه دي حتي له پخوا نه هم . د هغوي د هر یو ظرفیت ۲۵ میګاواټه دي.

دا شبکه د امریکا ویشتنګ هاوس کمپني جوړه کړیده او موږ ورسره په تماس کي یو یو توربین مو هم تري غوښتي دي.

پوښتنه : دبرېښنا بیه مو څه ډول ټاکلي ده ؟

ځواب : فعلاً د کورو لپاره د یو کیلو واټ بیه ۳۰۰ افغاني ټاکل شویده خو د وزیرانو د شوري پریکړي ته منتظر یو. ولي د اوبو او برېښنا له وزارت نه کوم هدایت په دي اړه نه دي راغلي ؟

ځواب : نه ځکه چي د کندهار برېښنا ریاست په وادي هلمند او ارغنداو پوري اړه او د وادي هلمند او ارغنداو عمومي ریاست په وزارت پوري نه بلکه په صدارت پوري بي اړه درلوده .

پوښتنه : له ښار نه وروسته مو د برېښنا د ویش دوهم پلان په کوم ځاي کي دي.

ځواب : زموږ دوهم قدم به د کندهار کیشکنخود ، پخوایي، ارغنداو، تخته پل او بولدك وي او د دامان په ولسوالي کي برېښنا فعاله ده .

او په هلمند کي مو د موسی کلا ولسوالي، چانجیر، سنګین، نا د علي مرجه په نظر کي دي او ګرشك کي مو برېښنا فعاله کړیده امید دي چي ډیر ژر به د کندهار او هلمند اکثره ولسوالي په برېښنا روښانه شي.

پوښتنه : د برېښنا په امتیاز کي د ګډون حق لا امتیاز څومره دي.

ځواب : دا د میتر او امپیر په تفاوت پوري اړه لري چي بیلا بیل (اشپږ لکه ، اتلس لکه، اتیا لکه حتی تر ۱۸۰ لکو پوري قیمتونه لري موږ د وادي هلمند او ارغنداو له لوي رئیس محترم مولوي عبدالصمد خجندي نه هم د هغوي د کارونو په اړه ځني پوښتني کړیدي چي دلته بي له ځوابونو سره رانقلوو .

پوښتنه : مهرباني وکړي ووایي د اوبو لګولو په ساحه کي مو څومره‌کار کړیدي؟

ځواب : موږ د اوبو لګولو په برخه کي دومره کار کړیدي چي د برېښنا دا دومره کار بي په مقابل کي په سلو کي یو هم ندي ، په هلمند کي کرهڼي ته د څښتو شل لکه جریبو نه یواځي څلور لکه جریبه مځکه کرل کیده چي هغي ته هم سمي اوبه نه ورورسیدلي خو موږ د خپلو شپه او ورځ هڅو په نتیجه کي پدي وتوانیدلو چي دا شل لکه جریبه ځمکه ټوله حړوبه کړو او پوره حاصل تري لاسته راوړو.

پوښتنه : مهرباني وکړي په لنډ ډول د هغو نهرونو او ویالونو مو نه واخلي چي تاسي پاك کړي او ترمیم کړي وي ؟

ځواب : موږ د بو غرې، بوغرا‌بالوي شملان ، کوچني شملان، هزار جفت ، درویشان یا نهر سراج ویالي ترمیم او پاکي کړیدي.

پوښتنه: آیا د هلمند وادي په نورو ځایونو کي هم نماینده ګي لري ؟

ځواب : د هلمند د وادي مرکز لشکرګاه دي خو په کابل او کندهار کي هم نماینده ګي لري .

پوښتنه : څومره وسایط لري ؟

ځواب : موږ ددي وادي په بیلا بیلو برخو لکه د اوبو لګولو په برخه کي، د کرهڼي په برخه کي او د برېښنا په برخه کي ټول له ۴۰۰ عرادو زیات وسایط لرو.

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د شریعت تبصره

د بن غونډه :

زموږ د سپیڅلو هیلو پر خلاف د ناروا هڅو یوه برخه ده

د تفاهم او ملي وحدت د شورا په نامه یوي ډلي له څه مودي را په دیخوا د ځینو ښکاره او نا ښکاره سرچینو په هڅونه او مالي حمایت له هیواد څخه بهر د غونډو یوه سلسله پیل کړي چي په همدي ورځو کي د المان په پلازمینه د بن په ښار کي هم ددي ډلي تر اشراف لاندي یوه غونډه جوړه شوي، دا چي په هیواد کي د اسلامي امارت تر سیوري لاندي د بي مثال امنیت او کراري پر سیوره هم بیا د غونډي جوړونکو د خپلي غونډي ځاي له هیواد څخه بهر خوښ کړي په ښکاره څرګندوي چي د غونډي تر شا نور لاسونه دي او هغوي غواړي تر څو په ډاګه کړي چي ګواکي په افغانستان کي د غونډو لپاره مناسب حالات موجود نه دي نو ځکه له هیواد څخه بهر خپله غونډه جوړوي چي دا په خپله له خپل هیواد او هیوادوالو سره ستره جفا ده د بن د غونډي له پیل څخه مخکي که د افغان مجاهد ولس غبرګون ته د دي غونډي په هکله نظر وکړو نو ویلاي شو چي دا غونډه مخکي له خپل پیل څخه ناکامه وه دا ځکه چي د هیواد په سلو کي تر اتیا برخي زیات واکمن اسلامي امارت د منطقي دلایلو پر بنا ، هغه بي ګټي بللي. د پخوانیو جهادي تنظیمونو زیاترو مشرانو هغي ته د بي ځایه هڅو په سترګو کتلي او له هیواد څخه بهر هم زیاترو مهاجرو افغاني شخصیتونو هغه رد کړي نو د یوي غونډي د ناکامي لپاره همدا کفایت کوي چي مطلق اکثریت بي ناکامه وبولي. د غونډي او د غونډي د جوړونکو ځانګړتیاو ته هم که پام وشي نو څرګندیږي چي دغه غونډه پرته له دي چي بهرنیو لاس وهنو خپل منځیو اختلافاتو او کورنیو جګړو ته نوره هم لاره هواره کړي څه بل شی ترینه جوړیدي نشي.

د غونډي د برخه والو په ترکیب کي د جهاد د ویاړونو د پلورونکو د زیاتو او مشهورو کسانو موجودیت او بیا په افتتاحیه جلسه کي بي د باغي ډلو د استازي یونس قانوني خبري کول دا په ډاګه کوي چي دا غونډه د ملیشه اي ډلو ټپلو په خوښه او رضا جوړه شوي همدارنګه په برخه والو کي د زیاتو معلوم الحاله هیواد دښمنو او مشکوکو څیرو موجودیت هم دا ښیي چي دي غونډي ته د خیر طمع کول نا پوهي ده دا ځکه چي خیر غوښتونکي کسان یا هیڅ پکښي نشته او که کوم کس وي هغه هم په هیڅ کي حسابیږي . د غونډي هدف او موخه چي د جلسي په اجنډا کي اعلام شوي هم دا ښیي چي دا غونډه په هیواد کي د اسلامي نظام د پوره حاکمیت او د هیوادوالو د سپیڅلو هیلو پر خلاف د ناروا هڅو یوه بله کړي ده دا ځکه چي هغوي د پراخ بنسټه حکومت د لویي جرګي له لاري راوستل غواړي په داسي حال کي چي د هیواد د زرهاو تنو جیدو علماو د متفقه فیصلي پر اساس اسلامي امارت د یوه اسلامي نظام غوښتنو سره سم ټول د اړتیا وړ مواصفات د خپلو سرښندونکو مجاهدینو د وینو په بدل کي پوره کړي او د ټول افغان مجاهد ولس حمایت هم له ځانه سره لري نو څه دلیل ... جوړه ده چي دا شرعي نظام دي ړنګ او پر ځاي دي بل حرکت جوړ شي ... تر دي علماؤ دنیداره، پر وطن مین او مخلص نماینده ګان وموندل شي چي بیا تر دي اسلامي اداري د دوي په اصطلاح ښه اداره جوړه کړي ؟ آیا د تیرو لویو جرګو د غړو د انتخاب لاري مو هیري شوي ؟ څه غیر اخلاقي اصول نه وه چي له هغو نه د انتخاب لپاره کار وانه خیستل شو او بیا زیاترو منتخب یا انتصابي غړو څه نه وه چي وي نه کړل ؟ مګر د رباني د اهل حل و عقد شورا مو هیره شوه چي د جرګو ناري وهي .

د بن د غونډي جوړونکي چي ځانونه مجرب سیاست پوهان هم بولي ددي پر ځاي چي د اسلامي امارت دمثالي کارنامو ستاینه بي کړي وای په ډیري بي انصافي سره را ولاړ شول تر څو دا جوړ نظام یو ځلي بیا خداي مکړه وران او تیره تباه کونکي کډوډي بیا حاکمه کړي چي د دوي دا عمل د سیاست پوهني په ځاي د بي منطقي لوړ پوړتیبي . له غونډي نه د کفري نړي پلویتوب یوه بله بیلګه ده او دا ښیي چي دا غونډه د اسلام د دښمنانو په توښت او لګښت جوړه شوي او د تیرو مفسدینو له بیا واکمن کولو څخه پرته بله موخه نلري . په لنډه توګه باید ووایو کومي هڅي چي نه بي مقصد سپیڅلي وي ، نه بي په لاره اچونکي مصلحین وي، نه بي کړنلاره منطقي وي او نه بي پلویان د اسلام خیر غوښتونکي وي نو له هغي غونډي نه به دخیر طمعه ځنګه وشي ؟

په ټول هیوادا کي د سولي د تامین او اسلامي نظام د تحکیم لنډه او اسانه لار فقط د افغانستان له اسلامي امارت څخه د پلویتوب حمایت ده که د تفاهم اوملي وحدت په نامه شورا په ریښتیا ځانونه د اسلام، ملت او وطن خیر غوښتونکي بولي نو ژر تر ژره دي د اسلامي امارت تر څنګ ودریږي او خپل ایماني او ملي مسولیتونه دي سرته ورسوي که نه لکه چي اوس یواځي او لا لهانه پاتي دي همداسي به یواځي او لالهانده ګرځي او په پای کي به د کعبي پر ځاي ترکستان ته ورسیري .

و ما علینا الاالبلاغ

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press